# خپل د رحم د غاړې معاینه (screening) بېرته پیل کړئ.



د رحم د غاړې د سرطان مخنیوی لپاره له خپل ډاکټر، متخصص نرس یا قابلې سره د یوې معاینې ترسره کولو په اړه خبرې وکړئ.

# په حقایقو پوه شئ

## د رحم د غاړې د سرطان د مخنیوي لپاره خپل ځان له یوې ازموېنې سره معاېنه کړئ.

هر هغه ښوک چې د رحم غاړه ولري او کوم وخت له جنسي پلوه فعال وي کیدای شي د رحم په سرطان اخته شي. د رحم د غاړې معاینه مخکې لدې چې سرطان پیل شي د هغه علایم معاینه کوي.

## د HPV د رحم د غاړې د سرطان لامل کرځي.

انساني پاپیلوما وایرس (HPV) معمول دی او معمولاً پخپله له منځه ځي. که چېرې HPV د ډېرو کلونو لپاره له منځه ولاړ نه شي، دا د رحم د غاړې د سرطان لامل کرځیدلی شي.

د رحم د غاړې د سرطان د مخنیوي لپاره په منظم ډول سره معاینه کول اړین دي. که چېرې ستاسو د رحم د غاړې د معاینې نېټه تېره شوې وي، له خپل ډاکټر، متخصص نرس یا قابلي سره خبرې وکړئ.

د لا ډېرو مالوماتو لپاره،
**cancercareontario.ca/cervical**
څخه لیدنه وکړئ

Ontario Health
Cancer Care Ontario

CQCO5042

آیا دې مالوماتو ته د لاسرسي ور بنې کې اړتیا لرئ؟
1-877-280-8538, TTY 1-800-855-0511, info@ontariohealth.ca